مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپېڅلی

٢٠٢۶/٠٨/١٩

# هغه باوري، چي ما پېژندی

استاد محمد رسول باوري هغه افغانه اکاډمیکه څېره وه، چي په لرغون پېژندنه کي خدای ځانګړی استعداد ورکړی ؤ.

هغه د پوهنتون استاد، لیکوال، لرغون پوه اود وزارت فرهنګي مرستیال ؤ.
د خپلي لوړي پوهي په درلودولو لکه میوه لرونکي ونه همدومره خاکسار ؤ.
زه یې له ډېره وخته له نامه سره اشنا وم، خو له نژدې مي نه ؤ لیدلی.

د ده د لیدو ترمخه مي داسي فکر کاوه، چي استاد باوري به هم د یوشمیر تش په نامه پوهنتوني استادانو په ډول تر جهان پر ځان مین وي، خو د ده په یوار لیدولو مي دغه خبره له زړه او ذهنه یومخ ووتله.

استاد مي  اول وار  همدلته په کندهار کي د ( کندهار په تېرو ۴٠کلنو ) سیمینار کي ولیدی.

په دغه علمي سیمینار کي د چایو د وقفي پرمهال مي موقع غنیمت وګڼله او د هغه لېوالتیا له مخي، چي له دغسي علمي شخصیتونو سره یې لرم څنګ ته یې ورغلم ، خپل نوم مي ورته یاد کړ.

که څه هم د دوی وړاندي زما پوهه او تجربه ډېره کمه ده، خو دی د خپل دروند عادت  له مخي ماته ډېر متوجه سو د دوهم وار لپاره یې روغبړ راسره وکړ او راته یې وویل» یاره سپېڅلي لیکني دي په ځینو سایټونو کي تعقیبوم، ما خو ویل، چي ته به زما همزولی یې، خو ته ماشاء الله تراوسه لا ځوان یې، مګر لیکني دي پخي دي«.

مننه مي ځیني وکړه او چای څښلو ته له مرحوم استاد فضل محمد پنهان سره یوځای مېز ته کښېنستلو، د استاد باوري خوږ مجلس، پیپلي خبري اوورین تندی هغه څه ؤ، چي زه یې نورهم پرځان باوري کړم.

له یاد سیمینار وروسته مي استاد ملګرو سو ، د ټلیفون شمیره یې راکړه ، په فېسبوک کي یې زما ریکویسټ ومنی او بیامو په واټساپ کي هم تماسونه نیول.

د ځوان فرهنګي کهول په هلو ځلو خورا خوشحالېدی او تل به یې لومړی پوښتنه همدا راڅخه کوله، چي: » کندهاري ځوانان په څه اخته دي، فرهنګي وضعیت څنګه دئ؟
«دده ټینګار پر دي ؤ، چي باید ځوانان پوهنتوني زده کړو ته وهڅېږي، ترڅو  له دې لاري   په دین او دنیا ځان باخبر کړي.

پروسږکال، چي د «فرهنګي اوونۍ » لمانځلو لپاره د یو فرهنګي پلاوي په مشرۍ کندهار ته تشریف راوړی  ؤ، نو یوار بیا مو د لوی کندهار پر سیاسي، کلتوري او نورو اړخونو ډېر مجلسونه وکړل.

د دوی د راتګ په وياړ مو ځانګړي مشاعره او ځیني فرهنګي پروګرامونه ورته چمتو کړل، ما به استاد دیادو مشاعرو او پروګرامونو پرمهال ځاری ده هغه شعر ته د « یوار یې بیا ووایه !» ږغ کاوه، چي د هیواد وورستی ناخوالي به پکښي انځور سوي وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

د مشاعرې په پیل کې یې هم له ځوانو شاعرانو او لیکوالانو وغوښتل، چې خپل فکر، قلم او بیان خپلواک وساتي، د وطن د کامرانۍ لپاره هڅې وکړي او ځان د پوهې په ګڼه سمبال کړي.

له بده مرغه دا د پوهاند محمد رسول باوري وروستی سفر ؤ، چې کندهار ته یې تشریف راوړی ؤ، له دې وروسته یې بیا په مرګ کندهار ته نصیب وسو او د کندهار پوهنتون سره نژدې د مشاهیرو په هدیره کې خاورو ته وسپارل سو.

ددوی په جنازه کې پر لوی کندهار سربېره د یوشمیر نورو ولایتونو یو زیات شمیر فرهنګیانو، استادانو، شاعرانو، لیکوالانو، ادیپالو او مخورو سپین ږیرو ګډون کړی ؤ.

په وروستیو کې وایم، چې ترڅو افغانستان وي، د استاد پوهاند رسول باوري نوم او پوهنیز خدمتونه به یې ژوندي وي.

مرحوم ته جنتونه او کورنۍ ته یې له الهي درباره جمیل صبر غواړم
۲۰۲۱ – ۰۶ – ۲۷
کندهار ښار – علامه حبیبي واټ ، اطلاعات اوفرهنګ ریاست


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ